HELLENIC REPUBLIC
Ministry of Migration Policy

Asylum Service

# د نړیوالی پناه وړ غوښتونکو د حقونو په اړ پو ښتنی او د هغوی ځوابونه

## ۱. په یونان کښی د پناه غوښتونکی په هیڅ تاسو لا ندینی حقونه لری

۱ تاسو ته د نړی والی پناه غوښتونکی تذکره/ کارډ در کړل کیږی چه پری تاسو په یونان کښی به قانوني ډول ګرځیدلی شی
۲ تاسو روغتیاي او درملو ته بی د خرڅه رسنه لری
۳ ستاسو بچی کولی چه ښونځی ته لاړ شی
۴ تاسو د لا ندینیو شرطونو په بنسټ د اوسیدنو د ځاي وړ یی
۵ تاسو د ځانګړو شرطونو تر لاندی د کار کولو وړ یی

## ۲. د اوسیدنو د ځاي وړ ګرځیدل

د اولس مشری امر نامی ۲۲۰/۲۰۰۷ دنړی والی پناه غوښتونکی د اوسیدلو د ځاي حق لری. د دی له پاره د کار وزارت اړین دی. د پناه غوښتونکو غوښتن لیکنی د پناه اداره د کار وزارت څانګی چه د اولسی همدردی ملی مرکز نومیږی او هم دا اړینه اداره ده، لیږی. لا هم چه غوښتونکی د اوسیدلو د ځاي حق لری خو دا محال د میلمستیا په مرکزونو کښی خواه او شاه یو زرر(۱۰۰۰) ځآیونه شته والی لری او هم په دی سبب د ټولو غوښتن لیکونو منظوریدل ممکن نه دی. د اروپايي قانون تر مخه هغه څوک د اوسید لو د ځاي حق نه لری چه د کډوال او یا بیا د مرستیالی پناه وړ ګرځیدلی وی

## ۳. آیا دولت کولی شی چه موږ ته کار پیدا کړی؟

بیا هم چه د پناه غوښتونکی او د نړیوالی پناه وړ کولی شی چه کار اوکړی خو دولت نه شی کولی چه ورته د کار ځاي بیا مومی لکه څه رنګ چه د یونان وګړو ته نه شی بیا مومل.

## ۴. که چری موږ د نړی والی پناه( کډوال یا مرستیاله پناه) وړ اوګرځو نو کوم حقونه در لودی شو؟

تاسو ته به د اوسیدلو در ی (۳) کلنه اجازت نامه درکړل کیږی چه د نوی کیدلو قدرت لری. کله چه تاسو مثبت پریکړه در کړل شی نو د دی نه یوه نه تر دوه میاشتی وروسته دا اجازت نامه در کړل کیږی. تر هغی به تاسو سره د نړی والی پناه غوښتونکی تذکره/کارډ چه پری د یونانی ژبی په لویو تورو کښی د اوسیدلو اجازت نامی ته منتظر ټاپه لګیدلی وی.

تاسو ته به دسفر کولو سندونه ستاسو هم له دی له پاره د غوښتنی وروسته درکول ی شی هم له دی له پاره  ضرور ده چه پینځه اتیا (۸۵)  یورو فیس ور کړئ. که چری تاسو مرستیاله پناه تر لاسه کړی وی او د کېوال هویت نه لرئ او د خپلو چارواکو نه پاسپورټ اخستل شئ او یا پاسپو رټ لرئ، نو تاسو ته د سفری اسنادو د جوړولو ضرورت نشته او کولی شئ هم په دغه سفر او کړئ
تاسو د کار کولو حق لرئ
تاسو د روغتیايي له پاره روغتون ته رسنه لرئ
ستاسو بچی ښوونځئ ته تلی شی
هم دا ډول دولت نه شی کولی چه تاسو ته د اوسیدلو ځای، کار او نه څه مالی مرسته اورسئ بیا هم که څه ډول معذوری لرئ او د وجود په یوه برخه شل یئ نو د معذورئ مالی مرستی وړ یئ

## ۵. هر کله چه هغه پریکړه چه تر مخه ي نړی واله پناه (د کېوال هویت یا مرستیاله پناه) ور کړل کیږی نو وروسته کوم کارونه په مخه ځی چه تر لاندی ي د اوسیدلو اجازت نامه او د سفر سندونه اخستلی شم ؟

هر کله چه تاسو زموږ د اداری نه پریکړه په لاس واخلئ نو باید د یونان د پولیسو اړینی اداری ( په اتن کښی د بهرنیانو اداره او ادرس ي پیترو رالی څلور ویشت (۲۴) دی) ته لاړ شئ او د ځان سره د اوسیدلو اجازت له پاره ضرور سندونه یوسئ او،وړاندی کړئ. د ضروری سندونو د وړاندی کولو نه یوی نه تر یوه نیمی میاشتی باید د پناه اداری ته راشئ او هم له دی ځاي نه ي تر لاسه کړئ.هم د دی سره سم د سفر سندونو له پاره غوښتنلیک وړاندی کولی شئ. ضرور نه ده چه د اوسیدلو اجازت نامی تر لاسه کیدو،  د سفر د سندونو له پاره د غوښتنلیک منتظر اوسئ. دا دواړه کا رونی هم په یو ځاي مخ ته بو ولی شئ.

## ۶. آیا موږ بالغان ښوونځئ ته تللی شو ؟ موږ چیرته یونانی ژبه زده کولی شو ؟

بالغان د څه شرطونو تر لاندی ذده کړی ته رسنه لرلی شی. په لویه کچه دولت د یونانی  ژبی ذده کړی په اړوند ذده کړی رسوی. تاسو به د دی په اړ د پناه اداری د خبرتیاو څخه خبریږئ او دی سره څنګ د ټولنو او غیر دولتی تنظیمونو چه هم اړینی مرستی رسوی

## ۷. آیا کولی شو چه پاتی اروپا ته سفر اوکړو ؟

په قانونی ډول د اروپا بل هیواد ته  صرف د ډبلن قانون دری چه د کورنئ یو والی کارونه نو میږی، سفر کولی شی. د پناه غوښدونکی په هیڅ د اروپا بل هیواد ته سفر نه شی کولي خو بیا هم که چری د روغتیایی اړین  ثبوت شوی لویه ستونزه لرئ چه تر مخه ي سم د لاسه بهرنی هیواد ته تګ ضروری وی

که چری تاسو ته د کډوال هویت او یا مرستیاله پناه جاری شی نو کولی شئ چه د سفر د سندونو له پاره غوښتنلیک وړاندی کړئ چه ي تر لاسه کړئ. د سفری سندونو د چمتو کیدو په ټولی کارونی یوی نه تر دوه میاشتی لګی. په سفری سندونو تاسو کولی شئ د اروپا نورو هیوادونو ته سفر اوکړئ خو هلته میشت کیدلی نه شئ. تاسو په دغه هیوادونو کښی هر شپږ میاشتی وروسته تر دری میاشتو اوسیدلی شئ او د دری میاشتو په پوره کیدو باید دغه هیواد پریږدی. که چری تاسو په یو بل اروپایي هیواد کښی میشت کیدل غواړئ نو د هغی هیواد د اروپا نه بهرنی هیوادونو د وګړو له پاره د شرطونو څخه تیر شئ.

٨ . آیا نړی والی پناه (کډوال یا د مرستیالی پناه وړ) وړ کولی شی چه په سفری سندونو د اروپاي ټولنی نه بهر سفر اوکړی ؟

کولی شی خو که دا ممکنه وی او د خوښ هیواد د سفارت نه دغه هیواد ته د ننوتلو اجازه ( ویزه) تر لاسه کړی. په دی اړ د معلوماتو له پاره د سفر خوښ هیواد د سفا رت سره اړیکی اونیسئ

٩. د ډوبلن کارونی د چوکاټ د ننه مونږ د چا سره اړیکی نیو لی شو ؟

هغه نا بالغه چه یوائې وی، د خپل مور او پلار، خویندو ورونړو، ترونو ماماګانو او نیا نیکونو سره په رابطه کښی راتلی شی
ښځه خاوند د یو بل سره
مور او پلار د نابا لغه اولاد سره
هغه بالغان ( د مثال په ډول بالغه خویندی ورونړه، مور او پلار د اولاد سره) کولی شی چه په رابطه کښی راشی دا په ځانګړی ډول، د مثال په ډول که ستره روغتیایي ستونزه او لری، ځوک په عمر زیات وی او د خپلوان د پام لرنی ته مجبور وی او داسی نور

١٠. د ډوبلن د کارونی له پاره کوم سندونه مهم دی ؟

تاسو سره دی باید هغه سندونه په لاس وی چه تری ستاسو د کورنئ د غړی چه په یو بل اروپایي هیواد کښی د نړی والی پناه غوښتونکی په حیث او یا بیا د نړی والی پناه (کډوال یا د مرستیالی پناه وړ) هویت لری او تری دا ښکاریږی. هر داسی سند چه تری ستاسو د کورنئ تعلق ښکا ی، ښه ده چه د ځان سره ي راوړئ

١١. که چری مونږ ته د کډوال هویت راکړل شی نو آیا کولی شو چه د اروپایي ټولنی نه بهر خپله کورنيئ راولو ؟

د کډوال هویت وړ دا حق لری چه د خپلی کورنۍ غړی چه په خپل پلارنی هیواد کښی ژوند کوی، راولی. هم له دی له پاره دی باید زموږ په اداره کښی اړینه غوښتنه وړاندی کړی. په دی ټولی کارونی زیات وخت لګی او نور ډیری اداری پکښی بخت وی لکه د کورنیو چارو وزارت او هم دا راز مقرره نیټه نشی ټاکل کیدی

## ۱۲. آیا یونان ته د خپلی کورنۍ غړو د راوستو له پاره دا ضرور ده چه موږ کور او کار او لرو؟

کله چه تاسو ته د کډوال هویت در کړل شی او په دری میاشتو کښی دننه د کورنۍ یو والی غوښتنه وړاندی کړه نو ضرور نه ده چه دا شرطونه پوره کړی

## ۱۳. کوم داسی سندونه پکار دی او کومه کارونه مخ ځی؟

د کورنیی هویت تازه تصدیق نامه او یا بل داسی رسمی سند چه په یونانۍ ژبه کښی تر جمه وی او د اړینی یونانۍ اداری نه ټاپه شوی وی او تری دا ښکاری چه هغه تنان د کډوال سره څه ډول خپلولی لری او د دوی عمرونه څو کاله دی چه غواړی کډوال ته راشی
د کورنۍ د غړی او یا غړو د سفری سندونو فوټو کاپی
که چری کډوال دا باندی سندونه نه شی وړاندی کولی نو بیا د اخستلو اړینی او د پناه پلټنی اداری به نور ثبوتی سندونه د نظر لاندی راولی. داسی نه ده چه هم د سندونو د نشت والی د وجی دغه غوښتنی نه منل کیږی

هر کله چه د پناه اداره دغه غوښتنی او منی نو وروسته د دی د یونان سفارت ستاسو خپلوان ته یونان د سفر ویزا ور کړی
*سفارت د ویزی ورکولو له پاره کوم سندونه غواړی؟*
ستاسو د هیواد له اړخه پیژندلی شوی پاسپورټ او یا بل سفری سند چه نیټه لری او د ویزی د نیټی نه دری میاشتی زیاته نیټه لری
د بهرنی د هیواد د چارواکو له اړخه د جرم د احوالو تصدیق چه تری د جرم و ضعه ښکاری. په هغه محال که چری د محکمی آخرنۍ پریکړه راغلی وی او د هر ډول سره اړین وی او تری دا ښکاری چه تری اولسی نظم او حفاظت په خطر کښی وی نو بیا د داسی ثبوتی سند ضرورت شته چه ي تر څنګ د جرم د وزن یا پر له پسی کولو او دریم هیواد د وګړی د نا وړ ه اخلاق معلو
د دولتی یا شخصی اداری نه پیژندل شوی تصدیق چه تری ښکاری چه په داسی رنځ اخته نه یی چه د نړی والی روغتیایی ټولنی او د نړی وال قانون تر مخه تری اولسی روغتیا په خطر کښی وی او د دی سره سم د داسی نورو د یو نه بل ته لګیدو رنځونو ښکار نه وی چه له مخ نیوی له پاره د اولسی روغتیا پاک ساتلو هڅی کیږی

۱۴. آیا د اوسیدلو په اجازت نامی اروپا ته په سفر تللی شو؟

نه شی کولی. تاسو د سفر د سندونو ضرورت شته

۱۵. آیا داسي لار شته چه زه د سفري سندونو د جاري کيدو نه وړاندي د مهمو وجوهاتو له کبله د یونان نه بهر ته په سفر لاړ شم؟

نه. خو په هغه شکل که چري مهم انساني وجوهات څرګند شي نو بیا کیدي شي چه په دي کار عمل اوکړي شي

۱۶. هر کله چه مثبت پریکړه در کړل شي او وروسته د هغي حق لرونکي د سفري سندونو له پاره غوښتنه وړاندي کړي نو په څومره وخت کښي جاري کیږي؟

خواه او شاه تر یوي میاشتي نه تر یوه نیمي میاشتي

۱۷. د یونان د تابیعت تر لاسه کولو له پاره څه پکار دي؟

له دي له پاره د یونان د تابیعت قانون شته خو بیا هم په لنډه تاسو ته پکار دي چه
تاسو د اته لسو ۱۸ کالو نه جګ یي
د یونان د تابیعت قانون د پینځمي ۵ مادي لاندي تاسو د ځانګړي جرمونو له عمله محکمه شوي نه یي
تاسو د کډوال یا بیا د مرستیالي پناه وړ ګرځیدلي یي او یا بیا تاسو د کډوال یا مرستیالي پناه وړ د کورنیي غړي یي او د اړیني اوسیدلو د اجازت نامي لرونکي یي
که چري تاسو د کډوال په هیڅ پیژندل شوي یي نو بیا پکار ده چه تاسو پر له پسي لږ تر لږه تر دري کلو په یونان کښي اوسیدلي یي او که چري د مرستیالي پناه وړ ګرځیدلي یي نو دا وخت لږ تر لږه پر له پسي اووه۷ کاله دي
تاسو د یوناني ژبي پوره پوهه لري
د یونان د تابیعت قانون د پینځمي ۵ الف مادي لاندي تاسو د هیواد په اقتصادي او اولسي ژوند کښي ننوتي یي او د هیواد په سیاسي ژوند کښي په بنیادي او عملي ډول ګډون کوي

۱۸. د اوسیدلو اجازت نامه او سفري سندونه څومره نیټه لري؟

د اوسیدلو اجازت نامه دري ۳ کاله وخت لري او د غوښتني په وړاندي کولو بیا نوي کیدي شي. د سفر سندونه تر پینځه ۵ کلو نیټه لري

۱۹. په هغه ډول که چري مونږ مور پلار یا خور ورور د اروپايي ټولني هیوادونو نه بهر لرو او د هیواد نه د راتګ نه وړاندي مو ورسره ګډ ژوند کولو او مونږ ته يي ضرورت نه وو خو اوس د هغوي د پام لرني څوک نشته نا آیا په داسي صورت کښي د کورنيي یو ځاي کیدل کیدي شي؟

په ځانګړي ډول د بالغه ماشوم د مور پلار سره د کورنيي یو ځايي کیدل کیدي شي. د دي نه وړیا باندي ذکر شوي شکل کښي تاسو ته پکار دي چه نور داسي څیزونه وړاندي کړي
د دولتي اولسي ښي چارواکي اداري نه داسي تصدیق نامه چه تري د بهرني وګړي د کارکونکو د ډلي لاندي د جزيي/تیکس کلنیزه ادا کونه تري څرګندیږي او دا راز د کډوال او د ده د کورنيي د غړو د روغتیايي په اړ ټول ضرورتونه پوره کوي
یا داسي تصدیق نامه چه د کلنیزي جزي/ تیکس او یا داسي نور سند چه تري دا څرګندیږي چه د ده کلنیزه آمدن قیام لري او په وخت وي او د ده سره سم د ده د کورنيي ټول ضرورتونه پوره کوي او دا آمدن د اولسي مرستي د نظام نه نه وي. پکار ده چه دا آمدن د یو بي هنر منده مزدورکار د کلنیز آمدن نه کم نه وي او دا دي د ښځي/خاوند په سر په سلو کښي شل ۲۰٪ او د هر بچي یا مور پلار په سر په سلو کښي پینځه لس ۱۵٪ زیات والي لري او
داسي سند چه د دولتي اقتصادي اداري نه ټاپه او تصدیق شوي وي او تري د کور اخستل او یا په کرایه نیول څرګندیږي او یا بیا داسي ټاپه شوي سند چه تري د کډوال او د ده د کورنيي د اوسیدلو ضرورتونه پوره کیدل څرګندیږي
د خپلو خویندو او ورونړو سره نه شي یو ځايي کیدلي

۲۰. داسي کوم ډول غیر قانوني عملونه دي چه زمونږ د کډوال یا مرستیالي پناه وړ ګرځیدل څنډولي شي او یا بیا که چري مونږ وړ ګرځیدلي یو رانه بیرته اخستلي شي؟

د لاندیني جرمونه کولي شي چه د کډوال یا مرستیالي پناه وړ ګرځیدل اوځنډوي او یا بیرته واخستل شي

جنايي جرم او يا بيا داسي غير قانوني عمل چه يي په کولو لږ تر لږه دري۳ کاله بندي توب لري، دبدني زيان رسولو مهم جرم (اولس مشري امرنامه ۳۱۰) د نابالغو تښتول (اولس مشري امر نامه ۳۲۴)په زوره او ناخوښي تښتول(اولس مشري امرنامه ۳۲۷) د چا جنسي بي عزتي (اولس مشري امرنامه ۳۳۷ او ماده ۲ نه تر ۵) ماشومان په غلطه لار اړول (اولس مشري امرنامه ۳۳۹) ماشومان په جنسي کارونو په لاس راوستل (اولس مشري امر نامه ۳۴۲) د ماشومانو لغړ عکسونه او انځورونه جوړول (اولس مشري امر نامه ۳۴۸الف) ماشومان جنسي کارونو ته را بلل (اولس مشري امرنامه ۳۴۸ب) ماشومان په جنسي دول غلط استعمالول , د ښځي په جنسي ډول په غلطه استعمالول , نابالغه د پيسو په بدل جنسي کارونو ته رابلل , څوک يرول/زورل (اولس مشري امر نامه ۳۸۵)

۲۱. مونږ چه هر وخت او غواړو آيا کولي شو چه د کډوال او مرستيالي پناه د هويت او نړي والي پناه نه لاس بيرته واخلو؟

د پناه د عمل په لار تاسو چه هر کله اوغواړي کولي شي. د دي سره سم که چري تاسو د کډوال هويت او مرستيالي پناه ورکرځيدلي يي نو کولي شي تري بيرته لاس واخلي. تاسو ته دا معلومه وي چه په داسي صورت کښې پکار ده چه د يونان نه لاړ شي ولي چه په بل ډول تاسو غير قانونه اوسيږئ او که چري تاسو يو ځل بيا د پناه له پاره غوښتنه کول اوغواړئ نو دا ډيره ګرانه ده چه مو يو ځل بيا غوښتنه او منل شي